# د حضور صلی اللہ علیہ وسلم

## د لُعابِ مبارک برکتونه

**11-September-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پهٔ 11 ستمبر، کال 2025ء (بمطابق: 17 ربیع الاول، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د حضور ﷺ د لُعابِ مبارک برکتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- --- د بیمار ماشوم شِفا نصیب شوه
- ---مُعجِزَه بن کے آیا ہمارا نبی (کوم نبي چې مونږ ته تشریف راوړے هغه سراسر معجزه ده)
- --- فصیح عربي ږبه وښودله
- --- لاړو مبارکو یې حیا داره جوړه کړه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د دواړو جهانو د مالِک او مختار، مكي مَدَني سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:**

خوک چې په ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولولي، الله پاک د هغهٔ د دواړو ستركو ترمينځه وليكي چې دا د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره ساتي۔ (1)

حکمِ خُدا بھی، دِل کی صَدا بھی درود ہے | روحانیت کی اَصل غِذا بھی درود ہے
ہاں ہاں اندھیری قبر کی ہے روشنی درود | محشر میں عافیت کی رِدا بھی درود ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**په حديثِ پاک** كښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔ (2)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وكړو: مَثَلاً ❁ د **الله** پاک د رضا

---

1…مجمع الزوائد، جلد:10، صفحه:253، حديث:17298۔

2… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

د پاره به تول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بچپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيبِ! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیمار ماشوم شِفا نصیب شوه

حضرت اُسامه بن زید رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کوم اخري حج ادا کړو، پهٔ هٔغه سفر کښې زهٔ هم د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ووم، پهٔ تللو تللو مونږ رَوحا نومي ځائے ته ورسیدو، هلته چې ورسیدو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یوه زنانه ولیدله کومه چې د هغوئي طرف ته راروانه وه، فوراً یــې سورلۍ مبارکه ودروله، هٔغه زنانه نزدې راغله، د هغې پهٔ غیږه کښې یو ماشوم وو- عرض یــې وکړو: یا رَسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا زما ځوي دے، پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! پهٔ کومه ورځ چې پیدا شوے دے، د هٔغې ورځې نه بیمار دے-

پهٔ بعضې روایتونو کښې دي: چې دا ماشوم لیونے وو (یعنې د هغهٔ د مِرګو بیماري وه)-[1]

حضرت اُسامه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د رحمت والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماشوم واخستو، پهٔ خپله سورلۍ باندې یــې خپلې مخې ته کښینولو، بیا یــې خپلې لاړې مبارکې د ماشوم پهٔ خُله کښې واچولې او اوئې فرمائیل: اُخْرُجْ يَا عَدُوَّ اللهِ فَاِنِّي رَسُوْلُ الله یعنې اے د الله پاک دښمنه--!! راووځه! بے شکه زهٔ د الله رسول یم-

د دې عمل کولو نه پس نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماشوم زنانه له واپس ورکړو او اوئې فرمائیل: دا واخله---!! اوس دهٔ ته هیڅ خطره نشته-

فرمائي: د حج نه د فارغیدو نه پس چې کله مونږ واپس راروان وو نو هم پهٔ هٔغه ځائے کښې هٔغه زنانه ولاړه وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا

1 ...شرح سنن ابن ماجه للهرری، کتاب الطب، باب النشرة، جز:20، صفحه:441، زیرِ حدیث:3476-

سورلی ودروله، اوئې فرمائيل: ستا ماشوم څنګه دے---؟ عرض يـې وکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په خُدائے مې دې قَسم وي! هٰغه ورځ وه او نن ورځ ده، ماشوم بالکل صحت مند دے-[1]

ہوتی ہے شِفا دَم میں، دَم آتا ہے بےدَم میں
مَحْبوبِ خُدا کا ہے کیا خُوب شفا خانہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** چې په دې روايت باندې مونږ د يو څو اړخونو نه غور وکړو:

## د روايت نه ميلاوېدونکي سبقونه

د ټولو نه وړومبے خو دا خبره عرض کوم چې دلته زمونږ په معاشره کښې يو خيال مونډلے کيږي چې د نبيانو او رسولانو کار صرف او صرف د الله پاک پيغام رسول وي- خبره بالکل ټيک ده، انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام هُم د خلقو د هدايت د پاره تشريف راوړي خو د هغوئي کار صرف دا نۀ وي، دا خبره صحيح نۀ ده- وګورئ چې يو ماشوم بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر کړے کيږي، کوم ته چې د آسيب يا مِرګو مسئله ده، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغۀ په خُله کښې خپلې لاړې مبارکې اچوي او فرمائي: اُخْرُجْ عَدُوَّ اللهِ فَاِنِّيْ رَسُوْلُ الله اے د الله پاک دښمنه! راووځه---!! بے شکه زۀ د الله پاک رسول يم-

وګورئ چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هٰغه مِرګو د راويستو د پاره د خپل رسالت حواله ورکړه او دا حواله چې يـې واوريدله نو هٰغه مِرګي هم ووتل، معلومه شوه چې د رسالت چې کوم مَنصَب دے، هم دا مَنصب د اختياراتو منصب دے، د رسولانو دا شان وي، چې چا ته څۀ حکم وکړي، د هغوئي د خُلو مبارکو نه لفظ

1 ...دلائل النبوة للبيهقي، باب ذكر المعجزات الثلاث....الخ، جلد:6، صفحه:25-

وتل وي چې هلته قِسمت بدل شي-

بہشت و خُلد ہیں کیا بلکہ کُل خزانوں کا | خُدا کے گھر سے ہیں وہ اِختیار پائے ہوئے[1]

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه لیکلي دي:

مَجۡبُور ہیں ہم تو فِکۡر کیا ہے | تم کو تو ہے اِختیار آقا[2]

## اَنبیائے کرامو علَیہِمُ السَّلام ته اِختیار ورکولے شي

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې د انبیائے کرامو علَیہِمُ السَّلام شان بیانوي او فرمائي:

اُولِی الۡاَیۡدِیۡ وَ الۡاَبۡصَارِ ﴿۴۵﴾ (پاره:23، سورۀ ص:45) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: کوم چې قدرت لرونکي او عِلم لرونکي وو-

پۀ تفسیر نُور العرفان کښې دي: معلومه شوه چې الله پاک انبیاء کِرامو علَیہِمُ السَّلام ته قُدرت هم عطا کوي، عِلم هم ورکوي، د کوم په ذریعه چې هغه د عالَم خبر هم لري، پۀ هغې کښې تصرف هم کوي-[3]

کیوں نہ ہو تم مالِکِ مُلکِ خُدا، مِلکِ خُدا | سب تمہارا ہے خُدا ہی جب تمہارا ہو گیا[4]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نعمتیں بانٹتا جس سَمت وہ ذیشان گیا

## (هغه ذیشان چې کوم طرف ته لاړو هلته يې نعمتونه تقسیم کړل)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اوس پۀ دې باندې پۀ یو بل لحاظ سره غور وکړئ! د پوهه کولو د پاره صرف یو مثال عرض کووم: که څوک هر څومره هم ماهر ډاکټر وي، تاسو پۀ کوڅه باندې پۀ تیریدو هغوئي ودروۍ او یو سخت مریض هغۀ ته وروړاندې کړئ،

1...قبالۀ بخشش، صفحه:328۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:34۔

3...تفسیرِ نُور العرفان، پاره:23، سورۀ ص، زیرِ آیت:45، صفحه:728 بتغیرِ قلیل۔

4...ذوقِ نعت، صفحه:75۔

ووایې چې ډاکټر صیب! پهٔ تللو تللو کښې ورسره دا مریض هم وګورئ!

که ډاکټر صاحب ستاسو خپل وي، دوست مو وي نو بیا به یــې هم زیات نه زیات څه معمولي شان معائینه وکړي او وه به وائي چې زهٔ پهٔ مرض باندې پوهه شوم، کلینک ته یــې راوله- ستاسو مریض به ټیک شي- چې هلته پهٔ ولاړه ولاړه د مریض پوره علاج وشي، داسې یو ډاکټر هم نهٔ شي کولے- خو قربان شم! د دواړو جهانو طبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، پهٔ سفر کښې دے، پهٔ لاره باندې روان دے، پهٔ لاره کښې مریض راغلو، چرته د تللو ضرورت راپیښ نهٔ شو، چرته د کیناستو ضرورت پیښ نهٔ شو، بس چې چرته وو، هم هلته یــې پهٔ ولاړه ولاړه خپلې لاړې مبارکې پهٔ خُله کښې ورواچولې او د کلونو د مریض پهٔ لږ ساعت کښې شِفا نصیب شوه-

سُبْحٰنَ الله! اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ الـلّٰـهِ عَلَيۡه خومره ښکلې خبره لیکلې ده:

نعمتیں بانٹتا جس سَمت وہ ذِیشان گیا | ساتھ ہی مُنْشِیِٔ رحمت کا قلم دان گیا [1]

**وضاحت:** هٰغه د قدر او منزلت والا نبي رحمت، محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د رَبِّ کریم د انعامونو تقسیمولو د پاره کوم طرف ته هم تشریف یوړلو، د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحم او کرم لیکلو والا خپل قلم دان واخستو او هم د هغوئي سره وو-

## مُعْجِزَہ بن کے آیا ہمارا نبی

### (کوم نبي چې مونږ ته تشریف راوړے هغه سراسر معجزه ده)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ دریم نمبر پهٔ دې روایت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو کمال ته هم وګورئ! مریض دے د ډیرو کلونو نه بیمار دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلې لاړې مبارکې د هغهٔ پهٔ خُله کښې واچولې او شِفا یــې ورعطا کړله- سُبْحٰنَ الله!

---

1 ...حدائقِ بخشش، صفحه:55۔

جو چاہیں گے جسے چاہیں گے یہ اسے دیں گے | کریم ہیں یہ خزانے لٹانے آئے ہیں

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه نبي، خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ھغه شان والا دے چې الله پاک هغوئي د سر نه واخله تر ښپو پورې سراسر معجزه جوړه کړې ده- الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ (پارہ:6، سورۂ نسا:174)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه تاسو له ستاسو د رَبّ له طرفه واضحه دليل راغلو-

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ❀ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام معجزې د الله پاک د ذات او د صفتونو دليلونه وي ❀ مخکښينو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام ته الله پاک مختلفې معجزې عطا کړې وې ❀ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام لاس مبارک معجزه وه ❀ د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام اواز مبارک معجزه وه ❀ د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام حُسن مبارک معجزه وه، دغه شان پۀ انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام کښې چا ته يوه معجزه عطا کړے شوه، چا ته دوه معجزې عطا کړے شوې، د دې ټولو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام نه پس الله پاک خپل اخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سر نه واخله تر ښپو پورې سراسر معجزه جوړه کړه او را وه يې ليږلو-[1] او اوئې فرمائيل: اے خلقو! تاسو ته ستاسو د رَبّ د طرف نه ډير پوخ او مضبوط دليل راغلو-

دیئے معجزے اَنبیا کو خُدا نے | مُعْجِزہ بن کے آیا ہمارا نبی

## د لاړو مبارکو برکتونه

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاړې مبارکې هم معجزه ده او دا صرف يوه معجزه نۀ بلکې د سوونو معجزو مجموعه ده-

1 ...تفسير نعيمى، پارہ:6، سورۂ نسا، تحت الآية:174، جلد:6، صفحه:147 ملتقطاً-

د میډیکل سائنس په لحاظ سره که چرې زهٔ په دې باندې خبره وکړم نو وګورئ! زمونږه په خُله کښې چې کومې لاړې جوړیږي، دا په اصل کښې زمونږ په خُله کښې درې قِسم غدود وي ❀ د غوږونو نه لاندې ❀ د داړو نه لاندې ❀ او د ژبې د لاندې- د دې غدودو دا کار وي چې د وینې نه اوبهٔ، نمکیات، پروټین او انزائمز راښکي او د هغې نه لاړې جوړوي- زمونږه--- یعنې زما، ستاسو او د دُنیا د ټولو انسانانو په خُله کښې چې کومې لاړې جوړیږي، د هغې په ذریعه باندې خوراک هضم کیږي، په خوراک تیرولو کښې اساني پیدا کیږي، خُلهٔ صفا وي، په خبرو کولو کښې اساني وي، د غاښونو حفاظت کیږي، داسې زمونږ د لاړو 5، 10، 15 فائدې وي خو قربان شم! د دواړو جهانو د تاجدار، رسولِ مالِک او مختار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان ډیر ځانګړے دے:

گلبنِ باغِ نُور کی اَور ہی کچھ اُٹھان ہے

د خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خُلهٔ مبارکه کښې چې کومې لاړې مبارکې دي، ❀دا صرف خوراک نهٔ هضم کوي، ❀ صرف په خبرو کولو کښې اساني نهٔ پیدا کوي بلکې دا لاړې مبارکې چې په زخم باندې ولګي نو د دُنیا د ټولو نه بهترین مرهم ترینه جوړ شي ❀ چې په سترګه باندې ولګي نو د سترګو نُور ترینه جوړ شي، که په خوراک کښې ولګي نو په خوراک کښې برکت زیات کړي ❀ که په تریو کوهي کښې واچولے شي نو د هغې اوبهٔ خوږې کړي ❀ چې د چا په خُله کښې واچولے شي نو د طاقت، عزت، بهادرۍ، عِلم او نُور خزانه ترینه جوړه شي-

| | |
|---|---|
| جس کے پانی سے شاداب جان وجناں | اُس دَہَن کی طَراوَت پہ لاکھوں سلام |
| جس سے کھاری کنویں شیرۂ جاں بنے | اُس زُلالِ حَلاوت پہ لاکھوں سلام [1] |

**وضاحت:** د مالِک او مختار آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه په وتونکو لاړو

1 ...حدائقِ بخشش، صفحه:302۔

مبارکو باندې جنّتونه شنهٔ او ښکلي دي، پهٔ هُغه لاړو مبارکو باندې دې پهٔ لکونو سلامونه وي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاړې مبارکې د کوهیانو تروې اوبې خوږوې، رُوح او ځان ته تازګي عطا کوي، پهٔ هُغه خوږه چینه باندې دې پهٔ لکونو سلامونه وي۔

## د زهرو آثر ختم شو

د غارِ ثور واقعه به خو تاسو اوریدلې وي، الله! الله! د مسلمانانو وړومبي خلیفه حضرت اَبُو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ غار کښې یو سوري ته پونده مبارکه ایښودې ده او ناست دے، خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل سر مبارک د هغوئي پهٔ غیږه کښې ایښودے دے او ارام فرمائي۔ هلته مار د هغوئي پونده مبارکه چیچي، حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادب پهٔ وجه، د هغوئي د ارام پهٔ خیال ساتلو صبر کوي خو تکلیف ډیر وو، د ډیر صبر کولو باوجود یې د سترګو نه اوښکې وبهیدلې، د عاشقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د عشق نه ډکې اوښکې پهٔ عشقِ رسول کښې پهٔ موجونو شوې او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ مبارک یې ښکل کړو، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سترګې مبارکې وغړولې او اوئې فرمائیل: صِدِّیقه څهٔ وشو؟ عرض یې وکړو: لُدِغْتُ فِدَاكَ اَبِيْ وَ اُمِّيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ! یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما مور او پلار دې پهٔ تاسو باندې قربان شي، زهٔ مار چیچلے یم۔[1]

الله! الله! بیا د خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو کمال ته وګورئ! پهٔ طِبي لحاظ سره د مار د زهرو عِلاج پهٔ یو څیز باندې نهٔ کیږي، دې د پاره مختلف کیمیائي څیزونه رایوځائے کولے شي او اینټي وِینَم (*Antivenom*) یعنې مرکب دوائي ترینه جوړولے شي، د مار زهر پهٔ هغې باندې لرې کیږي۔ قربان شم! دا د خوږ نبي،

---

1 ...مشكاة المصابيح، كتاب المناقب والفضائل، الفصل الثالث، جز:4، صفحه:417، حديث:6034 ملخصاً۔

مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاړې مبارکې دي، په دې کښې هر قِسمه شفاګانې راجمع شوي دي، نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلې لاړې مبارکې په حضرت صِدّيق اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې اونه څښلې بلکې په پونده مبارکه باندې يې د پاخه د وجود نه بهر طرف ته ولګولې، بس د لاړو مبارکو لګيدل وو چې د زهرو اثر فوراً ختم شو-[1]

هوتی ہے شِفادَم میں، دَم آتا ہے بے دَم میں

مَحْبوبِ خُدا کا ہے کیاخُوب شفاخانہ

## د سترګو کاتے يې واپس ور وستل

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د لاړو مبارکو د برکتونو سره سره مونږ لږ د اللّٰه پاک د قدرتونو او عنايتونو ذِکر هم اورو:

زمونږ چې دا کومې سترګې دي، د سترګو دا ټول شان غونډارے دے، لږ غور وکړئ چې دا څومره د کمال خبره ده، په دې کښې يو ميخ هم نه دے لګيدلے، هيڅ پيچ پکښې نشته، د دې باوجود مونږه ټوپونه وهو، ښکته ټيټيږو، راپاڅو، د اوچتو ودانو نه خلق لاندې راوغورځيږي، د دې باوجود دا غونډارے غورځيږي نه، د خپل ځائے نه خوزي هم نه- څومره د کمال خبره ده---!!

د سترګو کاتے څنګه پروت وي؟ يو څو ځيزونه دي، يو خو د هډوکي خَول دے، بيا د دې سره اعصاب وي، د دې سره سره ګولاجِن، اِيلاستِن، هائِلَورَونِک اَيسډ وغيره ډير قِسمه کيميکلز وي د کومو په ذريعه چې د سترګو کاتے په خپل ځائے باندې ولاړ وي- خُدائے دې نه کړي که چرې د چا کاتے بهر راووځي نو په اوسني ميډيکل سائنس کښې د هغې علاج دا دے چې ډاکټران حضرات د ټولو نه وړومبے خو پرې دوائي خوري چې د وجود

1 ...مشكاة المصابيح، كتاب المناقب والفضائل، الفصل الثالث، جز:4، صفحه:417، حديث:6034 ملخصاً-

پټې پۀ ارام شي، بيا د سترګو د پاڅه دوائي لګولے شي چې د سترګو تِشو ټيک وي، چرته زخمي نۀ شي ، بيا ګاټے دننه کيښودے شي، بعضې وخت ډير حساس شان آپريشن هم کول وي- دا د اوسني ترقي يافته دور د علاج طريقه ده-

اوس لږ روايت واورئ! د غزوۀ بدر موقع وه، حضرت رافِع بن مالک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، هغوئي په غشي لګيدلے وو سترګه يــې بهر راوتلې وه. اَللہُ اَکْبَر!

بگڑی باتوں کی فِکْر کر نہ حَسَنؔ | کام سب ہے بنا ہوا تیرا[1]

حضرت رافِع بن مالک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شو- د **الله** پاک حبيب، د دوارو جهانو طبيب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يــې په سترګه خپلې لاړې مبارکې ولګولې او دعا يــې وکړه. حضرت رافِع بن مالک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو په برکت زما سترګه بالکل ټيک شوه.[2]

سُبْحٰنَ الله!

مریضانِ جہاں کو تم شفا دیتے ہو دَم بھر میں | خُدارا دَرد کا ہو میرے دَرماں یارسول اللہ

## شِفا ورکونکې لاړې مبارکې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لاړې مبارکې د هر مرض شِفا ده، پۀ دې باره کښې نور هم ډير روايتونه دي، مثلاً ❁ د خيبر پۀ موقع خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پۀ خوږيدونکو سترګو مبارکو باندې لاړې مبارکې ولګولې، د هغې پۀ برکت د هغوئي ارام نصيب شو[3] ❁ د يو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ لاس وسوزيدو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

---

1…ذوقِ نعت، صفحه:73۔

2…مستدرک، کتاب معرفة الصحابه، ذکر مناقب رافع بن مالک، جلد:4، صفحه:251، حديث:5074ملخصاً۔

3…مسلم، کتاب فضائل الصحابه، باب من فضائل علی…الخ، صفحه:940، حديث:2404۔

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرېږ لاړې مبارکې ولګولې، سوزيدلے لاس ټيک شو[1] ❁ د حضرت فُوَيک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د سترګو بينائي تلې وه، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو په برکت واپس د سترګو بينائي راغله[2] ❁ د حضرت بشير بن عَقْرَبہ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په ژبه کښې لُکنت وو، ژبه به يې انښتله، د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لاړو په برکت يې د ژبې لُکنت ټيک شو[3] ❁ يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بيمار وو، بس اخري وخت يې وو، رغيدو نۀ- هغوئي څوک بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته راوليږلو، خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لږه شان خاوره راواخستله، په هغې کښې يې لاړې مبارکې واچولې او وريې کړه-

بيا هُغه اَستاذې هُغه په لاړو مبارکو باندې لـمده خاوره واخسته او لاړو- په ظاهره لږ شان حيران وو چې زۀ خو د مړکيدونکے مريض د پاره د دُعا کولو او د دوايۍ اخستو د پاره راغلے ووم، خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لږه شان خاوره راعطا کړله- بهر حال! دا اَستاذے چې واپس ورسيدو او هُغه په لاړو لـمده خاوره يې په اوبو کښې واچوله او چې څنګه يې په هغه بيمار صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وڅښله نو د هغوئي شِفا نصيب شوه-[4]

## حافظه يې ورعطا کړه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دې لُعابِ مصطفٰی د برکتونو څه ښکلے اوچت شان دے..!! دا هُغه لاړې مبارکې دي په کومو چې نه صرف جسماني بيمارۍ لرې کيږي بلکې د دې په سبب **الله** پاک روحاني بيمارۍ هم لرې کوي-

حضرت عثمان بن ابو عاص رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ صحابي رسول دے، ستاسو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ حافظه لږه

---

1 ... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:361، حديث:15851۔

2 ... مصنف ابن ابی شيبه، کتاب الطب، باب من رخص فی النفث فی الرقی، جلد:5، صفحه:441، حديث:2۔

3 ... کنز العمال، کتاب الفضائل، حرف الباء، جز:13، جلد:7، صفحه:130، حديث:36858۔

4 ... سبل الهدیٰ، جماع الابواب معجزاته فی احياء الموتی...الخ، الباب الرابع...الخ، جلد:10، صفحه:21۔

کمزورې وه، د کومې په وجه چې به ورته د قرآنِ کریم په یادولو کښې آزمیښت وو- یو ځل د ګران آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته حاضر شو او عرض يـې اوکړو: یا رسولَ اللّٰهِ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما ته په قرآن کریم یادولو کښې ازمیښت دے، د یادولو کوشش کوم خو یادولے يـې نه شم- ګران آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **اُدْنُ مِنِّی یَا عُثْمَانُ**! یعنې اے عثمانه! ما ته نزدې راشه! حضرت عثمان فرمائي: زۀ ګران آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته نزدې شوم، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما په خُله کښې خپلې لاړې مبارکې واچولې او زما په سینه يـې لاس کیښودو، د کوم ځواله چې ما د خپلو اوږو په مینځ کښې محسوس کړو، د هغې نه پس خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اے شیطانه د عثمان د سینې نه اوځه- حضرت عثمان رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: د هغې نه پس زما د حافظې دا حال وو چې **فَمَا سَمِعْتُ شَيْئًا بَعْدَ ذٰلِكَ إِلَّا حَفِظْتُهُ** [یعنې] ما به چې څه هم اوریدل هغه به راته یادیدل-[1]

اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي:

تم ہو شِفائے مَرض، خَلقِ خدا خود غَرض | خَلق کی حاجت بھی کیا تم پہ کروڑوں درود[2]

**وضاحت:** یعنې یا رسولَ اللّٰهِ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! **اللّٰه** پاک تاسو ته دا شان درکړے دے چې مریضانو ته شفا ورکوئ، لِهٰذا مونږ ته د مخلوق حاجت نشته، زمونږه د درد دوا، او د مرض شفا هم تاسو ځپله اوفرمائۍ، په تاسو دې کروړونه درود او سلام وي-

## دا اوبۀ ښنوونکے دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ پۀ زمکه باندې اوسیږو او تاسو ته معلومه ده چې د زمکې پۀ هر ځائے کښې اوبه راووځي، پۀ بعضې علاقو کښې خو چې 50، 60 فټه

1...دلائل النبوة، الفصل الرابع والعشرون...الخ، صفحه:277، رقم:396بتصرف-

2...حدائقِ بخشش، صفحه:267-

بورنګ وکړې نو اوبۀ راووځې، پۀ بعضې ځايونو کښې پۀ 200 فټه کښې هم نۀ راووځې، د علاقو فرق وي، د ځايونو فرق وي۔

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو کمال تاسو ته بيان کړم ---!! يو صحابي دے: حضرت عبدالله بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ځل بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، په ماشومتوب کښې په بارګاهِ رسالت کښې پيش کړے شو، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ هغوئي باندې خپلې مبارکې لاړې واچولې، د صحابي عشق رسول چې هغوئي لاړې مبارکې وڅټلې۔ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِنَّهُ لَمُسَقًّى يعنې بے شکه دا اوبه ښبوونکے دے۔

بس د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاکو مبارکو لاړو او د دې فرمان مبارک برکت وو چې د هغې نه پس دا حالت شو چې دۀ به کوم ځائے هم کنستو نو هلته به اوبۀ راختلې۔(1)

| | |
|---|---|
| اللہ! اللہ! شہِ کونین جلالت تیری | فرش کیا، عرش پہ جاری ہے حکومت تیری |
| تُو ہی ہے مُلکِ خُدا، مِلکِ خُدا کا مالِک | راج تیرا ہے زمانہ میں حکومت تیری(2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## لاړو مبارکو حيا داره جوړه کړه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ مدينه منوره کښې يوه زنانه وه، د هغې څۀ سائيکالوجيکل مسئله وه، هغې به سپکې خبرې کولې۔ يو ځل د هغې بخت رابيدار شو، دا د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوا تيريدله، هُغه وخت هغوئي خوراک کولو۔ هغې عرض وکړو: حُضُور! پۀ ما باندې هم وخورئ! هغوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغې له يوه نمړې

1...تاريخ دمشق، جلد:29، صفحه:253۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:247۔

ورکړه- هغې ووئيل: دا نۀ بلکې کومه چې ستاسو پۀ خُله مبارکه کښې ده، هغه مې پکار ده! هغوي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه نمړۍ راويستله او ورېې کړله- **پۀ روايت کښې ليکلے شوي دي:** چې بس! د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو دا لـمده نمړۍ خوړل ووچې پۀ زنانه باندې د شرم او حيا دومره غالبه وشوه چې ټول ژوند د هغې د خُلې نه چرې هم څۀ سپکه خبره رااونۀ وتله- يوې نمړۍ د هغې ژوند بدل کړو-[1]

## د مدينے منورې د ټولو نه خوږ کوهے

صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: زمونږ پۀ کور کښې يو کوهے وو، د هغې اوبۀ ډيرې تروې وې، يوه ورځ محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو، هغوئي خپلې لاړې مبارکې پۀ هٰغه کوهي کښې واچولې- فرمائي: بس د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لاړې مبارکې چې څنګه کوهي ته ورسيدلې نو د هٰغې ورځې نه پس به پۀ مدينه منوره کښې د ټولو نه زياتې خوږې اوبۀ زمونږ د کوهي نه ميلاؤيدلې-[2]

| | |
|---|---|
| جس کے پانی سے شاداب جان وجناں | اُس دَہَن کی طَراوَت پہ لاکھوں سلام |
| جس سے کھاری کنویں شیرۂ جاں بنے | اُس زُلالِ حَلاوت پہ لاکھوں سلام [3] |

**وضاحت:** د مالِک او مختار آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه پۀ وتلو لاړو مبارکو باندې جنتونه شنه او ښائسته دي، د دې لاړو مبارکو پۀ لوند والي دې پۀ لکونو سلامونه وي، د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لاړې مبارکې تراوۀ کوهيان خوږوي، رُوح او ځان ته تازګي عطا کوي، پۀ دې خوږه چينه باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي-

---

1 ... سبل الھدیٰ، جماع الابواب معجزاتہ فی احیاء الموتی...الخ، الباب التاسع...الخ، جلد:10، صفحہ:26 بتصرف۔

2 ... الخصائص الکبریٰ، باب الآیات فی فمہ...الخ، صفحہ:105۔

3 ... حدائقِ بخشش، صفحہ:302۔

# د لاړو مبارکو مختصر برکتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو به څۀ وايم، رښتيا خو هم دا دي چې

*زندگیاں ختم ہوئیں اور قلم ٹوٹ گئے*

*تیرے اَوصاف کا اِک باب بھی پُورا نہ ہوا*

د خوږ آقا صرف د لاړو مبارکو د برکتونو بيانولو د پاره ډير زيات وخت پکار دے، چې صرف د لاړو مبارکو يـې دا شان دے نو سوچ وکړئ چې د ټول وجود مبارک د برکتونو به يـې څۀ حال وي-

بهر حال! زۀ د مختلفو روايتونو مختصر خُلاصه عرض کووم: ✿ د قبا شريف پۀ خوا کښې يو کوهے وو، د هغې اوبۀ به روزانه ختميدلې، يوه ورځ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ هغې کښې لاړې مبارکې واچولې، د کومو پۀ برکت چې هغه اوبۀ دومره زياتې شوې چې خلقو به پخپله څښلې، پۀ ځناورو باندې به يـې څښلې، پټې به يـې پرې اوبۀ کول خو اوبۀ به نۀ ختميدې[1] ✿ حضرت حارثه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ غزوۀ بدر کښې شهيد شوے وو، د هغوئي کور والا خفه وو، ظاهره ده چې د جدايۍ غم وو- خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ اوبو کښې لاړې مبارکې شاملې کړې او ورعطا يـې کړې، هغوئي چې وڅښلې نو حالت يـې دا شو چې پۀ ټوله مدينه کښې د هغوئي نه زياته خوشحاله او د سکون والا کور بَل نۀ وو-[2]

✿ يو کوهے وو: **بِئرِبَضَاعَه**- صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہم فرمائي: يو ځل محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې کوهي ته تشريف راوړے وو، هغوئي پۀ دې کښې

---

1...دلائل النبوة للبيهقي، باب ما ظهر في البئر...الخ، جلد:6، صفحه:136-

2... المغازی للواقدی، بدر القتال، جز:1، صفحه:94-

غرغړه وفرمائيله، د هغې برکت دا وشو چې د دې اوبهٔ د هر مرض شِفا شوه- د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان معمول وو، کله به چې څوک بيمار شو نو هغه به يـې د : **بِئرِبَضَاعَه** خوا له بوتلو، پهٔ هُغه اوبو باندې به يـې غسل ورکړو، د دې پهٔ برکت به يـې شِفا نصيب کيدله-[1]

## عِلم يـې ورعطا کړو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا خو د لاړو مبارکو هُغه برکتونه وو چې محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خپل ظاهري ژوند مبارک کښې لاړې مبارکې ورعطا کړلې او برکتونه ظاهر شول، اوس يو بَل روايت د ظاهري وصال شريف نه سوونه کاله روستے واورئ!

تاسو ته معلومه ده چې د خوب خبرې خوب وي، مثلاً پهٔ خوب کښې مونږ ته يو کروړ روپۍ ميلاؤ شي، چې سترګې وغړوو نو آيا يو کروړ روپۍ به زمونږ سره وي---؟ نهٔ به وي- قربان شم! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دلته هم جُدا دے، هغوئي چې کله هم پهٔ خوب کښې تشريف راوړي نو پهٔ حقيقت کښې تشريف راوړي، د دې خوب اثرات پهٔ سترګو غړيدو نهٔ ختميږي، د راويخيدو نه پس هم باقي وي-

علامه سعد الدين تَفتَازاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ډير لوئي عالِمِ دِين دے، پهٔ دَرسِ نِظَامي (يعني عالِم کورس) کښې د هغوئي ليکلے شوي ډير کتابونه ښودلے کيږي- علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه به د قاضِي شيرازي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نه سبق وئيلو او پهٔ کلاس کښې د ټولو نه زيات کُند [د کمزورې] ذِهن والا ګڼلے کيدو- د هغوئي کلاس فيلوز (*Class Fallows*) به د هغوئي د کُند ذهنۍ (د کمزورې ياد داشت) پهٔ وجه پهٔ هغوئي پسې خندل- د دې باوجود هغوئي حوصله اونه بائلله او محنت يـې کولو، ډير پهٔ کوشش او محنت سره به يـې سبق يادولو، بيا به ترينه هيريدلو، بيا به يـې يادولو، داسې هغوئي محنت جاري وساتو- يو ځل

---

1...الطبقات الکبرىٰ، جلد:1، صفحه:392-

علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه پۀ سبق يادولو کښې مصروف وو چې يو نا اشنا ګَس راغلو او اوئې وئيل: مَسعُوده! پاڅه! مونږ د سيل د پاره ځو- علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه پۀ جواب کښې ووئيل: زۀ د سيل د پاره نۀ يم پيدا کړے شوے، هسې هم د دومره لوستلو باوجود ما له څۀ نۀ راځي، بيا پۀ سيل کښې زۀ وخت څنګه ضائع کولے شم؟ پۀ دې وئيلو هُغه نا اشنا ګَس لاړو، لږ ساعت پس بيا هُغه ګَس راغلو، هغوئي بيا علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه ته د سيل کولو د پاره د تللو دعوت ورکړو، هغوئي بيا هم هُغه جواب ورکړو- هغه واپس لاړو- لږ ساعت پس بيا پۀ دريم ځل هُغه ګَس راغلو، پۀ دې ځل باندې هغۀ ووئيل: تاسو د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يادَوِي - بس دا اوريدل وو چې د عَلَّامه تَفتَازاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه وجود پۀ رپيدو شو او هغوئي ښپې ابله ښپې د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار د پاره منډې کړې- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښار نه بهر د يوې وَنې لاندې تشريف فرما وو- خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه ته وکتل نو مُسکے شو او اوئې فرمائيل: زمونږ پۀ بيا بيا رابللو تۀ رانغلې؟ علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه پۀ عاجزئ سره عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته معلومه نۀ وه چې تاسو مې يادوئ؟ تاسو ته خو زما کمزورے ذِهن معلوم دے، يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زۀ ستاسو پۀ پاکه بارګاه کښې د شِفا طلب ګار يم- د علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرياد يې چې واوريدو نو د رحمت درياب پۀ جوش کښې راغلو، نبي رحمت، شفيع اُمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: خپله خُله کولاؤ کړه! علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه چې خپله خُله کولاؤ کړه نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلې مبارکې لاړې د هغوئي پۀ خُله کښې واچولې او دُعا يې ورته هم وکړه-

بس د لاړو مبارکو ميلاويدل چې هُغه طالبِ عِلم کوم چې د کُندذِهن وو، چې بيا

هغه طالب علم د اِسلامي دُنيا ډير لوئي عالِم، فاضِل جوړ شوے وو- په بَله ورځ چې کله علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه کلاس ته لاړو نو هغوئي د سبق په وخت د استاذ صاحب نه څهٔ علمي پوښتنې وکړې، د هغوئي باريکې او عِلمي پوښتنې چې يـې واوريدلې نو استاذ قاضِي شيرازي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه وفرمائيل: اے مَسعُوده! نن ته هغه نهٔ يـې، کوم چې پرون وې- ووايه چې څهٔ قيصه ده؟ علامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه چې اُستاذ ته ټوله واقعه بيان کړه نو د اُستاذِ محترم په سترګو کښې اوښکې راغلې- [1]

مرے تم خواب میں آؤ، مرے گھر روشنی ہو گی
مری قسمت جگا جاؤ، عِنایت یہ بڑی ہو گی [2]

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاړو مبارکو نهٔ ختميدونکې برکتونه دي- کاش چې زمونږه هم بخت رابيدار شي، کاش چې يوه ورځ مونږ اودهٔ شو او بخت مو رابيدار شي، هٰغه خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُوراني مخ، مبارکو زلفو سره په خوب کښې تشريف راوړي، کاش چې لاړې مبارکې هم راعطا کړي، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيم! د دُنيا او د اخرت ټول وران کارونه به مو سم شي-

جلوۂ یار ادھر بھی کوئی پھیرا تیرا
حسرتیں آٹھ پہر تکتی ہیں رستہ تیرا [3]

الله پاک دې په مونږ باندې کرم وکړي، د خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم نظر دې راباندې وکړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... حافظه کیسے مضبوط ہو؟، صفحه:121119۔

2...وسائل بخشش، صفحه:391۔

3... ؟؟؟؟۔

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د تفسير اوريدو او بيانولو حلقه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ زړهٔ کښې د الله پاک د ويرې زياتولو، د قبر او اخرت د تيارئ جذبې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم بڼهٔ پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- د ذيلي حلقې پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د تفسير اوريدو او بيانولو حلقه** هم دهٔ-

✿ **قرآنِ مجيد زده کول ډير د فضيلت کار دے:** ✿ پهٔ حديثونو کښې داسې مضمون دے: پهٔ داسې حال کښې سبا کړه چې يا خو تهٔ عالِم يې او يا د دِين طالبِ عِلم [1] ✿ د يو روايت مطابق سحر د قرآنِ مجيد يو آيت زده کول د 100 رکعتو نفلونو کولو نه بهتر دے- [2]

✿ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نمونځ نه پس د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو حلقه لګوي ✿ پهٔ دې کښې د قرآنِ پاک درې آيتونه ✿ د هغې ترجمه او تفسير اوريدے او اورولے شي ✿ د فيضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ✿ شجره شريف لوستلے شي ✿ دُعا کيږي او ✿ پهٔ آخِره کښې د اشراق او څاخت نفلونه هم ادا کولے شي

✿ **تاسو هم د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو پهٔ حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ!** اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به درنصيب شي ✿ د حديثِ پاک مطابق څوک چې سحر جومات ته د نيکئ زده کولو د پاره لاړ شي، هغهٔ ته د عمرې ثواب ميلاويږي- [3] ✿ چې د سحر وخت پهٔ نيکو کښې تير شي نو برکت به مو نصيب کيږي ✿ ټوله ورځ به مو ښه تيريږي ✿ سحر سحر به مو د عِلمِ دِين زده کولو موقع نصيب کيږي ✿ د شجره

---

1...دارمی، المقدمة، باب فی ذهاب العلم، صفحه:96، حديث:254۔

2...ابن ماجه، باب فضل من تعلم القرآن و علمه، صفحه:48، حديث:219۔

3...مستدرک، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحه:281، حديث:317۔

شريف پهٔ شکل کښې به د نيکانو بندګانو ذِکر کيږي ❀ د هغوئي محبت به پهٔ زړهٔ کښې کښيني ❀ د اوليائے کرامو رُوحاني توجه به درنصيب کيږي ❀ ايمان به مو تازه کيږي ❀ د هغوئي پهٔ وسيلېسره شوې دُعاګاني به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! قبليږي ❀ يو ډير لوئي برکت دا چې د سحر **د نـمونځ نه تر اشراق پورې پهٔ جومات کښې ايساريدل د خوږ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي** پهٔ دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصيب کيږي ❀ د حديثِ پاک مطابق څوک چې د سحر د نـمونځ نه پس پهٔ ذِكْرُ الله کښې مشغول اوسي، بيا د اشراق، څاښت نفلونه وکړي، هغهٔ ته به د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کيږي- (1)

## ويزې ميلاؤ شوې

راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپارلے واورو، يو اِسلامي ورور تقريباً د 14 کالو نه پهٔ بهر ملک کښې دے چرته چې د هغه خپل کاروبار دے، هغهٔ ته يو ځل پهٔ کارخانه کښې د کار کوونـکو ضرورت پيښ شو- هغهٔ د ويزو د پاره بيا بيا درخواستونه جمع کړل، خو د ډيرو کوششونو باوجود ويزې ميلاؤ نه شوې- ډير کلونه داسې تير شول، هغهٔ ډير پريشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي پهٔ وجه د هغهٔ نقصان کيدو- خير هغهٔ همت وکړو يو ځل يـې بيا درخواست جمع کړو، پهٔ دغه وخت کښې يو اِسلامي ورور هغهٔ ته د **شجرهٔ قادريه عطاريه** نه د شجرهٔ عَالِيَه د دُعائيه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه- هغهٔ د شجرې شريف دعائيه شعرونه پرله پسې لوستل شروع کړل- اَلْحَمْدُلِلّٰه! **د شجرهٔ قادريه رضويه ضيائيه عطاريه** لوستو پهٔ برکت د هغهٔ ههغه کار کوم چې د تيرو ډيرو کلونو راسې نه کيدو، ډير پهٔ حيرانۍ سره پهٔ يو څو ورځو کښې وشو او هغهٔ ته ويزې ميلاؤ شوې-

مُشکلیں حَل کر شَہِ مُشکل کُشا کے واسِطے | کر بَلائیں رَد شہیدِ کربلا کے واسِطے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ...شعب الايمان، باب في الصيام، جلد:3، صفحه:420، حديث:3957۔

## کلامِ اعلیٰ حضرت ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې دے: ***Kalam-e-ala hazrat*** (کلامِ اعلیٰ حضرت)- ❁ په دې ایپلي کیشن کښې د امامِ اهلسنت، سيدي اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ډيرې مشهورې د نعتونو مجموعې **حدائقِ بخشش او نغماتِ رضا** شاملې دي ❁ کوم چې د حروفِ تهجي د ترتيب سره شامل کړے شوي دي- ❁ د خپلې خوښې د کلام لټولو (*search*) آپشن موجود دے ❁ په دې ایپلي کیشن کښې مَدَني چينل سلسله نغماتِ رضا (يعني د حدائقِ بخشش مخصوص کلام) هم شامل کړے شوے دے کوم چې تاسو په اسانۍ سره د آډيو او ويډيو په شکل کښې کتلے شئ- دا ایپلي کیشن پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او د خپلو خپلوانو او ملګرو سره يې هم شيئر کړئ او خپل زړه د الله پاک د اخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محبت باندې روښانه کړئ-

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر اتوار په شپه اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي اتوار په شپه به هم اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! په مدني چينل باندې مدني مُذاکره کيږي، شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه به د سوالونو جوابونه ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هُم د دې دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د سجدې د آيت فضائل او 60 مسئلې** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو

سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ د ربيعُ الاوّل شريف د مياشتې او د يوم تحفظِ عقيدۂ ختم نبوت په سلسله کښې د مجلس ماہنامہ فيضان مدينہ له طرفه جاري کړے شوې خصوصی شماره: په نوم د:**سيرتِ خَاتَمُ النَّبِيّن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم- په دې شماره کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژوند مبارک مختلف اړخونه په ډېر آسان او زړۀ راښکونکي انداز کښې بيان کړے شوي دي- دا شماره رنګينه په **1100 روپۍ** او ساده په **550روپۍ** د مکتبةُ المدينہ د کومې څانګې نه هم غوښتلے شئ! ټولو ته يې هُم ولولئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به په جنّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د قرآن تلاوت سنت دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان دے:** (1): زما د امت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے-[2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د قرآنِ کريم تلاوت کول سنت دي- زمونږه ګران آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په کثرت سره د قرآنِ کريم تلاوت

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب:تعظیم قرآن، جلد:2، صفحه:347، حديث:2004۔

کولو ۞ حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللہُ عَنْھا فرمائي: هيڅ څيز به هم خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تلاوت نه نهٔ شو منع کولے ۞ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې په نمونځ کښې کله کله پوره سورة بقره او سورة آلِ عمران تلاوت کولو ۞ هره شپه به يـې سُوْرَهٔ سجده، سُورَهٔ ملک، سورة بني اسرائيل، سورة زُمَر، سُوْرَهٔ کافرون، سُوْرَهٔ فلق او سُوْرَهٔ ناس تلاوت کول او بيا به اوده کيدلو-

**الله** پاک دې مونږ ته هم د ډير تلاوتِ قرآن کولو توفيق را کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا | شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

مانگو آ کر دُعا پاؤ گے مُدَّعا | در کرم کے کھلیں، قافلے میں چلو
ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[2] راځۍ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثاني، ص٢٧٧

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم حيران شول چې دا څوک ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

2 . . . القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

3 . . . الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ، سُبۡحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٣، حديث:١٧٣٠٥

2... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥